ا. دریځ ۲۰۱۰/۰٤/۱۲م

# دنانډوله وګړزېږ تولنيز ـ نړيوال اغېز

ګردطبيعي قوانين دښکارندو ترمنځ تاکلی بريدو بيلانس څرګندوي. که کومه ځانګړې پېښه دغه بريدو بيلانس ګډوډ کړي، دطبيعي بهيرلوری، لودن پربلخوا اوړي او کړکېچ ( بحران ) پيښيږي.
دټولنپوهنې په ډېرو برخو کې دطبيعي قوانينو پورتنی آر کټمټ رېښتينی اوسم ښکاري اوپېژندنه يې دټولنيزو ستونځو اوکړکېچونو دهواري په لارکې خورا مرسته کړای شي .
که موږ غواړوچې انساني ژوندانه ته داسې لوری، لودن ومومو چې هغه يې له فطرت سره جوخت اړخ ولګوي اوانسان خوند ترې واخلي؛ هرومرو به اړيو چې دهغه اوچاپېريال ترمنځ يې بريدونه اوبيلانس وپېژنو او ويې ساتو.
له تاريخي پلوه، تل ليدل شوي چې دبشر دبدمرغيو اوپرلپسې ناخوالو يوسترلامل دا وو چې يا يې دخپلو ورځنيو اړتياوو په پرتله دخپلو غوښتنو بريدونه پېژندلي نه دي او يا يې هغه بابېزه ګڼلي او « ډېره» يې غوښتي ده. له همدغه لامله ، موږ ټينګار کوو چې که هرڅه يو « بريد » درلودلای شي ، نو ښايي چې « غوښتنو» ته هم يو بريد وټاکل شي . ترهغې چې د « غوښتنو» او« درلودلو» ترمنځ بيلانس وبريد ونه ټاکل شي، ټولې هغه هڅې به سرسري ،لنډمهالې اوبېځايه وي چې له ټولنيز وکړکېچونو، جګړو، تېريواوسلګونوداسې ناخوالو اوبدمرغيو دبشر ژغورنې په هيله ترسره کيږي .
وړاندې مو دانساني ژوندانه اوطبيعي چاپېريال ترمنځ دبريد وبيلانس يادونه وکړه . داددې لپاره چې ژوند له چاپېريال سره تړلی اويوپربل باندې سيده اغېزلري . اوس نو که موږ دانساني ټولنو اوطبيعي چاپېريال ترمنځ بيلانس ګډوډوو، ښکاره ده چې پخپله چاپېريال دې ته اړباسو چې نور مو ونه زغمي او د خپل ځانګړي طبيعي بهير دساتلو لپاره مرګونی ګواښ را پيښ کړي .
هغه څرګند لامل چې نن ورځ انسان په ډېره چټکۍ سره دغه ګواښ ته ورنېژدې کوي ، په خپله انسان يا په دقيق ډول، دهغه دشمېر ناانډوله ډېرښت دی.
سره له دې چې پورتنۍ انديښنه نوې نه ده او « توماس رابېرټ مالتوس» لا پراتلسمه پېړۍ دغې ستونځې ته ګوته نيولې وه خو دهغه دتيورۍ نيمګړتيا په دې کې ده چې هغه دوګړشمېر ډېرښت داقتصادي ناخوالو بنسټيز او يوازېنی لامل ګڼلی دی. که چېرې له دغې تيورۍ پورتنۍ نيمګړتيا ووېستل شي اودا ټکی هم ورسره پټلېز شي چې اقتصادي ناخوالې هم پخپله دوګړشمېر يو ډېروونکی لامل دی ؛ نو کېدای شي چې ددغې ستونځې د ژورې پېژندنې او هوارې په لارکې مرسته راسره وکړي .
موږ وينو چې ننۍ نړۍ نېژدې اووه ميليارده وګړي لري . دا شمېر دومره اوچت دی چې هېڅکله يې ساری نه درلود او د زښتو ډېرو څرګندو ژويو شمېر ريکارډ يې ورمات کړ .
که څه هم چې په پخوانيو ټولنو کې دوګړزېږ علمي مخنيوی نه کېده خو د اوس په پرتله يې وګړشمېر خورا ټيټ وو. دا ځکه چې تر هرڅه لومړی، اپيډيمي ناروغيو( وبا ) هاغه مهال بېوسه ټولنې ډله ييزې پوپنا کولې او شمېر ډېرولو ته يې نه پرېښودې.
په راوروستيو پېړيو کې نويو علمي ـ تخنيکي برياوو د اغېزناکو درملو په مرسته پورتنی ناورين په ولکه کې راوست او ډېرې وباوې يې ورکې کړې. اوس دپخوا په پرتله هاغسې وژنده ناروغۍ نشته او په نړۍ کې دمړينې کچه راټيټه شوې ده. دا يو ښه پرمختګ دی چې انسان ته يې دژوند کولو اسانتيا ور پربرخه کړه . په علمي ـ تخنيکي ډګر کې له داراز ګردو نويو اسانتياوو دبېکچه وګړزېږ دمخنيوي په لارکې هم وړګټه اخيستل کېدای شوه چې لاتر اوسه دټولو پوره پاملرنه وراوښتې نه ده يا يې لاس نه وررسيږي.
کېدای شي ځينوته به داپېښه بابېزه ښکاري اوداپوښتنه به کوي چې دوګړشمېر په ډېرښت کې څه تاوان دی؟
دلته دهمدې پوښتنې څوغټ ځوابونه وړاندې کوو:
ـ د ډېرو زېږونو لومړنی ګواښ بېچاره ميندو ته ورمخامخ دی . دوی له هرځل بلاربواله اولنګواله سره له فېزيکي پلوه کمزورې کيږي ؛ ژرناروغه کيږي ؛ ژر يې ښکلا الوځي ؛ ژر زړيږي او په بېوزله کورنيو کې دخپل کوشني په ګډون له مرګ سره لاسو ګرېوان وي .
ـ دځمکې پرمخ داستوګنې وړسيمې دلوړشمېرانسانانو دځايولو وړتيا نلري . څومره چې وګړي ډېرېږي هغومره نوې ودانۍ اواستوګنې جوړيږي او ښارونه پراخيږي اوله دې سره شنې سيمې کانکرېټي کيږي .
ـ دطبيعي زېرمو او ورځني لګښت ترمنځ بيلانس له منځه ځي . اړتيا ډېرېږي اودپوره کېدلو لارې يې بنديږي .


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**يادونه**: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

ـ دکاربوني اېنرژۍ دلګښت اوکيمياوي توکيو دبېکچه توليد له لامله اتموسفير، سمندرونه اودځمکې مخ ککړېږي اود انسان په ګډون ګردو ژويوته روغتيايي کړکېچ زېږوي .
ـ دلګښتي توکيو کمی د انسانانو تر منځ د وړسترګی حس پياوړی کوي اواقتصادي ،ټولنيزو اوسياسي کړکېچونو ته لا نوری لارې پرانيستل کېږي.
ـ وزګارتيا، ولږه ، ناروغی اودهغوی چټکه پراختيا او بېوزلي لاپسې ډېرېږي او کوشنۍ ډله زورور پوړ دهغې له وېرې دښکېلاک وزبېښاک غاښونه لاپسې تېره کوي . له دې سره ظلم په بېلابېلو نومونو پرلپسې قانوني بڼه مومي.
ـ دبېوزلۍ او ولږې له پراختيا سره دانسانانو بنسټيزه پاملرنه « له هرې لارې چې وي » يوازې دګېډې مړولو ته وراوړي اوښوونه اوروزنه اوګرد اخلاقي مانيز ارزښتونه شاته پرېښودل کېږي. جرايم وده کوي ؛ پوليسي ـ څارګري کړۍ پياوړې کېږي او وېروونکی سزايي سيستم دټولنيز کنټرول دوروستۍ وسيلې ځای نيسي . له دې سره ، ديموکراسي اوبشري ربښتې په سياسي جوړښتونو کې تردې نورې هم بې مانا کېږي او خپل همدا اوسنی ځای به هم ديکتاتورو او توراني واکمنيو ته ورخوشی کړي.
ـ دشتمنۍګټلو پرسر دزبرځواکونوترمنځ سيالۍ ګړندۍ کېږي اونوې جګړې پېښېږي چې ان بيا نړيواله سراسري تباه کوونکې بڼه درلودلای شي . په داخل نړيواله جګړه کې څو اتومي ګوزارونه بس دي چې د ټولو خوا يومخيزه سړه کړای شي .
داهغه غټ ټکي ول چې دوګړشمېر د ډېرښت تاوانونه يې پرګوته کړل . تردوی اخوادېر نورهم راوړل کېدای شول، خو ددې پرځای چې دغه لړۍ اوږده کړو ښه به وي وګورو چې په نړۍ کې دوګړشمېر دډېرښت لاملونه څه دي ؟ کېدای شي دهغوی له پېژندلوسره وکړای شو چې ددغې جدي ستونځې دهواري لارو، چاروته هم پام ورواړول شي.

مالي تنګسيا :
دبېوزله او وروسته پاتې ټولنو کورنۍ دشتمنواوپرمختلليوهغو په پرتله ډېرکوشني زېږوي . دساري په توګه ، دغه توپير داروپايي کورنيو پر وړاندې داسيايي ـ افريقايي کورنيو دپرتلې له مخې ښه ترا جوتېدای شي. په ټوليز ډول ،اروپايي کورنۍ داسيايي ـ افريقايي هغوپه پرتله له مالي پلوه بسيا دي خو لکه وموچې ويل، د همدغوبسياټولنو په کورنيوکې زېږکچه تربېوزلو هغوخورا ټيټه ده . کټنواو پوښتنو راښوولې چې يوازې مهالنۍ بسياينه دبېکچه زېږېدنودمخنيوي ارلامل نه دی. هغه څه چې په دې برخه کې بنسټيزاغېزلري دادي چې انسان پردغه بسياينه ترمرګه قانوني ډاډ ولري.
اروپايي سوسياليزه شوي سيستم پرګنو ته دغه ډاډ ورپربرخه کړی. دلته هرڅوک پوهېږي چې لږترلږه داسې يورېښتيني او پاک کارموندلای شي چې دهغه له لارې ګټلې پيسې يې ورځنۍ اړتياوې ورپوره کوي اويوه برخه يې د روغتيايي اوټولنيزې بيمې لپاره ترې ګرځول کېږي. که ناروغه شول وړيادرملنه يې کېږي، که وزګارپاتې شول د وزګارتيا پيسې ورکول کېږي اوچې زاړه شول دژوندترپايه کورناستې ( تقاعدي) تنخااخلي . پردې سربېره ، نيمګړی اوټل ناروغه انسان هم وړی اونيمه خوا نه پاتېږي. دی پرلپسې ددولتونو دټولنيزمرستو تر ملاتړلاندې دی او هراړخيزه پالنه يې کېږي. دغه سيستم هرانسان دومره ډاډ من کړی چې دژوند ترپايه به يې دلونو، زامنو، خپلوانواو دوستانو په ګډون هېچاته لاس ور ونه غځېږي اومالي مرستې ته به يې اړ نشي .
په وروسته پاتې هېوادونو کې دغه ډاډ نشته او يا ډېر کمزوری دی . ځکه چې هلته يوخوا د ټاکلي کارموندل ګران دي او بلخوا دورځني رېښتيني پاک کار له لارې دومره پيسې نه ګټل کېږي چې ورځنۍ فطري غوښتنې پرې پوره شي . ددې ترڅنګ، ميلياردونه انسانان نه روغتيايي بيمه لري نه ټولنيزه اونه يې هم کله دتقاعدنوم اورېدلای دی. دابې اسرې انسانان به په داسې ګډوډۍ کې څه کوي؟ په تېره چې دا وېره هم تل دسيوري غوندې ورسره ده چې په زړښت کې به يې لاسو پښې کمزورې وي اوپه يوازې ځان به ايله خپله ګېډه هم مړولای نشي. همدلته ده چې اړتيا يې پرشعور فشار وروليي او يو بله چاره ورښيي. دا چاره دمالي اړتياوو دپوره کولو په لارکې دنېژدې مرستندويو موندنه ده او ترټولونېژدې مالي مرستندويان « زامن» دي چې دموروپلار ترمرګه يې څنګ ترڅنګ ورسره اوسېږي اوټل يې لاسنيوی کوي .« لونې » دغه ارزښت نلري . ځکه چې دوی نورو کورنو ته ودېږي او دموروپلار پرلپسې مالي مرسته نشي کړای. له مالي پلوه ددوی ارزښت همدومره دی چې په هغوټولنوکې چې دواده ترنامه لاندې په پيسو پلورل کېدای شي ، يوځل وپلورل شي اوڅه پيسي پرې وګټل شي . په کورني مالي بهير کې د زوی او لور همدغه توپير دی چې له ټولنيز پلوه يې هم د دواړو ترمنځ دتوپير ژوره کرښه کاږلې او د زوی زېږېدنه يې ترلور ارزښتمنه کړې ده .
بېوزله او دزړښت له ستونځو اوناخوالو وېرېدلې کورنۍ ډېره تلوسه لري چې د زامنو شمېر يې ډېرشي . ځکه چې زامنوته له کوشنيتوبه دپيسوګټلودنده ورسپارل کېږي اوچې ځلمي شول دخپلوزړو ميندو ـ پلرونو پالنه پرغاړه اخلي .


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**يادونه**: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

په منځني ډول، د دربیمې نړۍ کورنۍ اووه ــ لس بچي زېږوي. په دغوکورنیوکې د زامنوشتوالی دهغوی مالي،روغتیایي اوټولنیزه « بیمه » ده. داچې انسان هرومرو یوډول بیمې ته اړتیا لري ، نو د دربیمې نړۍ کورنیو دناوړه سیاسي سیستمونو له لاسه همدغه لار ورته موندلې چې ډېرزامن وزېږوي اودهغوی ترسیوري لاندې ځانونه له ناخوالو خوندي کړي. ډېرځله داسې هم کېږي چې مېرمنې دهرځل زوی زېږولو په هیله پرلپسې لونې زېږوي او دا لړۍ دومره غځېږي چې مېړونه بل واده کوي اوله دویمې یادرېیمې ښځې هم بله ډله بچي زېږوي .
پرمالي بنسټ دغه زېږونې تل له ستونځوځخه دتېښتې یوه سرسري چاره ده او ګام پرګام نویو اقتصادي او ټولنیزو تنګسیاوو اولانجوته لارپرانیزي. داځکه چې اقتصادي سرچینې دهرې نوې کورنۍ له منځته راتګ سره ترلا ډېرفشار لاندې راځي اوکړۍ یې د ډېرېدونکي وګړشمېر پروړاندې دچاودنې تربریده راتنګېږي .
په دا راز ټولنو کې باید پرګنې په دې وپوهېږي او یا وپوهول شي چې له بېوزلۍ نه دځانژغورنې لار دانه ده چې ښځه دې دبلاربولواوزېږولو ماشین شي. دسیاسي جوړښتونو دداسې بنسټیز اوښتون لارې، چارې ولټوئ چې هغه مو دژوندانه داړتیاوو پر وړاندې مسوولیت ولري؛ ټولوته کارومومي؛ دکارو ګټې ترمنځ موعدالت ټینګ کړي او دټولنې هرغړی دژوندترپایه بشپړ بیمه او ډاډه کړای شي .
دلته کېدای شي داټکی هم لړترلږه داورېدلو وي چې بېکچه وګړزېږ به اقتصادي ګډوډۍ ته لارپرانیزي ، خولومړۍ دځینوبېکچه اقتصادي غوښتنې دي چې دارنګه وګړزېږ رامنځته کوي .

ښوونیزه ــ روغتیایي نیمګړتیا:
دوروسته پاتې نړۍ ګڼشمېر انسانان د ورځني ژوندانه دسمبالولو په درشل کې له پوهنیزو اسانتیاوو ناخبره اوبې برخې دي . په دوی کې زښت ډېر داسې دي چې نه غواړي ډېر کوشني وزېږوي ، خونپوهېږي چې په دې اړه څنګه او دچا په مرسته بریدو بیلانس وساتلای شي .
په پرمختللیوهېوادوکې داستونځه نشته . هلته ټول لږترلږه هرومرو په ښوونځیو کې زده کړه کوي او دهغې په ترڅ کې د« سېکس » روغتیایي اوټولنیزې ځانګړتیاوې او دبلاربېدلو دمخنیوي چارې ورښوول کېږي . ددغو زده کړو ترڅنګ هغوامکاناتو ته دهرچالاس ور رسېږي چې سېکسي روغتیا یې وساتي او دناغوښتې بلاربېدنې مخه یې ونیسي .
په وروسته پاتې ټولنو کې داخبره ډېره ستونځمنه ده .ترهرڅه وړاندې ، په یوشمېر دغو ټولنو کې سېکس تابو ګڼل کېږي اوڅوک یې په اړه ښکاره ډېر څه نه وایي ځکه چې شرم دی . د ښوونځیو دبیالوژۍ په کتابونو کې یې هم په دې اړه ډېر سرسري لیکل شوي اوښوونکي هم یا ژورپرې غږېدلای نشي اویانه غواړي چې سم پرې وغږېږي . په تېره په هغو ټولګیوکې چې نجونې پکې وي ، ټولنیز سانسور دسېکس په اړه دڅه ویلو مخه نیسي. دغه دود ټولنه په ناخبرۍ کې ساتي ؛ روغتیایي ګواښونه ورپېښوي او دښځو پرمخ دناغوښتو بلاربېدلو دمخنیوي پوهنیزې لارې تړي .
دداسې دودیزوهېوادونو د روغتیا وزارتونه هم په خپله دنده کې تېګ دي اودخپلوپرګنو دسېکسي مصوونیت هراړخیزه اندېښنه نکوي . دغه ستونځه په لومړي ګام کې دکورنیو اوبیا دټولنې غاړې ته ورلوېږي او وګړزېږ بېلانس ګډوډوي .
دولتونه دنده لري داسې پالیسۍ پرمخ بوځي چې پرګنې وپوهېږي چې سېکس دژوندانه یومهم حقیقت دی اودغه حقیقت ته دې ټولې هغه پوهنیزې ــ طبي لارې چارې چمتوکړي چې ناوړه پایلې یې انسان اوټولنه له ستونې ونه نیسي .

قبیله یي ذهنیت :
قبیله هغه ټولنیز جوړښت دی چې ددولت ترادارې ــ قانوني اغېز لاندې نه دی اویایې دغه اغېز ډېرپرې کمزوری وي. ددولتي اغېز نشتوالی یا کموالی قبیله دې ته اړ باسي چې خپلې ټولنیزې ــ اقتصادي چارې پخپله سمبال کړي اوورځنیوستونځوته پخپله لارې ومومي .
هره قبیله له پرلپسې خپلمنځي اوبهرنیو ګواښونو سره مخامخ وي . دقبیلې سترې کورنۍ پرکوشنیو هغو سیمه ییزه واکمنې چلوي اوکله ناکله هر راز تېری ورسره کړای شي اوکوي یې ، خود ځورول شوې کورنۍ غږ په اسانۍ سره څوک نه اوري . دلته دکوشنیو کورنیو ګناه دهغوی دغړیو دشمېر په کموالي کې وي چې دځان او خپلو شتمنیو اوښېګڼو ننګه اوساتنه نشي کړای . داټکی په قبیله کې دننه هغې ته ورمخامخ ګواښ دی . له دغه ګواښه دځانژغورنې یوازېنۍ لار داده چې میندې ډېرزامن وزېږوي او هغو بیا ګانده دخپلوکورنیو ګټواوښېګڼو ساتندوی ځواک شي .
سرببېره پردې ، ګاونډۍ قبیلې هم داقتصادي اوټولنیزو سیالیو له لاسه یوه له بلې سره ژر ټکر ته مخامخېږي اوترمنځ یې ډېرځله دکرنیزوځمکو، اوبو ،ورشوګانو، ښځو اوداسې نورو پر سرجګړې پېښېږي . دغه جګړې قبیلې ته ورنبغ بهرنې ګواښونه دي . په دغوجګړوکې ګټونکی اړخ هماغه وي چې ډېرشمېر جګړه مار چمتوکولای شي اوکه داسې ونکړای شي نو هماغه ده چې ماتې خوري او دسوبمنې قبیلې ترخې غوښتنې به مني .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**یادونه:** دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دپورتنیو دواړو ګواښونو دمخنیوي یوازینۍ لار په قبیله اودهغې په کورنیوکې دنارینه غړیو ډېروالی دی . له همدغه لامله ، قبیلوي ذهنیت ته وګړزیږ. سترازرښت ښکاري اوهرڅوک هڅه کوي چې ددغه ارزښت له مخې لږترلږه تر بله  وروسته  پاتې نشي او همدا فاکتور په قبیله یي ټولنه کې دوګړشمېر ډېرښت ته لارپرانیزي .

اتنیکي ــ راسیستي احساسات :
اقتصادي سرچینو ته  لاسرسی دبشري ټولنو ترمنځ دپرلپسې سیالیو بنسټیزه ډبره ده . سره له دې چې سیالي دپرمختګ زېږوونکې ده خو که هغه یوازې  دزور له لارې دزورور اړخ په  ګټه پرمخ بېول کېږي ، باید یومنفي چلن وګڼل شي . ددغه  وروسته پاتې دود جرړې په هماغه قبیله یي سیستم کې ځای نیسي او وروسته  قومي ، ملي ،سیکتاریستي، اوپه پای کې راسیستي ایډیولوژیوته دوینې ، ژبې، سیمې، توکم، رنګ،  اوداسې نورو دپالنې پربنسټ ورغځېږي .
اتنیکي ــ راسیستي سیاستوال  دواکګټنې هژمونیستي غوښتنې لري اوځانونه تل دنورو پروړاندې جګړو ته چمتو کوي. دوی هله په خپل کار کې ډېربریالي وي چې ټولنه له اقتصادي کړکېچ ( بحران ) سره مخامخ شي . په کړکېچنو شیبو کې انسانان غواړي دخپلو بدمرغیو اوناخوالو لامل وپېژني اوهغه له مخې لري کړي. همدا مهال دوی راوړاندې کېږي؛ ځانونه دیوه اتنیک دخواخوږیو په توګه ځرګندوي اوبله اتنیکي ډله  دناخوالو په رامنځته کولوتورنوي . هغه ټولنه چې د ورپېښوستونځو دسمې پېژندنې وړتیا ونلري، ددا راز سیستوالو په خبرو غولېږي اوپه پټو سترګو یې په دیما ګوژیکي ( غولوونکیو)  لومو کې لوېږي . هغه کړۍ چې په اتنیکي ــ راسیستي تاوتریخوالي کې ګټې کوي ، تل لېوال وي چې دهغو ترمنځ  کرکې ته لمن ووهي . ډېرځله کېدای شي چې دهمداسې کرکو له لاسه داتنیکي ډلوترمنځ جګړه ییز اورونه بل شي . دا چې په هره جګړه کې بشري ځواک ته اړتیاده ، د اتنیکي ــ راسیستي جګړو سازماني کړۍ هم هلېځلي کوي چې پرګنې زېږوونو ته وهڅوي او دجګړو لپاره بشري ځواک  پیاوړی کړي .
د اتنیکي سیاستوالو دغه تاکتیک یوازې په جګړه پورې   تړلی نه دی . دګټوکمیزو وروسته پاتې ټولنو په  ړندو دیموکراسیوکې هم  ګټه ترې اخیستل کېږي اوهغه داسې چې دناخبره پرګنو ترمنځ  د ژبني ، توکمیز اوسیمه ییز بېلتانه کرښې کاږل کېږي اوبیا دهر اړخ  تش په نامه  استازي واک ته درسېدلو په لارکې دهغوی  ملاتړ ترلاسه کوي . دلته  بیا هم کټمټ دجګړې غوندې ؛ هغه سیاسي کړۍ واک ته رسول کېږي چې ترنوروډېر اتنیکي ملاتړ ولري . د داسې اتنیکي ملاتړ څښتنې کړۍ تل هڅه کوي چې د اوچت وګړزیږ. له لارې  خپل  واک پرلپسې خوندي کړي .
داسې ټولنو ته سیاسي واکمن هغسې رغنده کار نکوي چې په ژوند کې یې ښه والی اورڼا راشي . دا ځکه چې دبسیا اوروښانه انسان  غولول ګران دي اوڅوک یې د خپلې ګټې په لارکې کارولی نشي . دا رنګه تیاره ټولنې په همدې خوښې وي چې واکمن یې د دوی په ژبه غږېږي او ددوی له توکمه دي . داچې دا همژبې او همتوکمه واکمن څه کوي ، ډېرسر پرې نه خوږوي . اتنیکي ــ راسیستي سیاستوال  د داسې توکمو دکوپړیو شمېر غواړي  نه  په هغو کې  شته ماغزه .
سربېره پردې ، په یوشمېر صنعتي پرمختللیو هېوادو کې چې دوګړزیږ. کچه ټیټه ده ، دژوند ښو شرایطو دمنځنې عمر کلونه اوږده کړي . داچې زاړه له پېنځه ویشتو تر نېژدې دېرشو کلو پاتې ژوند پورې هره میاشت تقاعدي تنخا اخلي نو اړتیاده چې ددوی پرځای ځلمي کاروکړي او مالیه ورکړي . دلته چې د ځلمیو کارګرو شمېر لږ دی اومتقاعدین ورځ پرورځ ډېرېږي ، مالي بنسټونه  هم له ګواښ سره مخامخ دي . ځانساتي سیاسي  کړۍ د دې ستونځې دهواري لپاره له بېلابېلو لارو، چارو  هلېځلې کوي چې کورنۍ زېږونو ته وهڅوي او کارځواک  خوندي کړي . سره له دې چې ددوی داراز  هڅې ډېراغېز نلري ، خو هېڅکله په اسانۍ سره دا نه مني چې له نورو  هېوادوڅخه کارګر راوغواړي . دا ځکه چې دوی پردي اتنیکونه  نه خوښوي او وېرېږي چې دنورو له راتګ سره به ورو، ورو د دوی اتنیکي جوړښت کمزوری شي اوپه کورني کلتورکې به یې پردی کلتور ورننوځي . داهم هغه زاړه اتنیکي احساسات دي چې نویو پوهنیزو معیارونو بې ارزښته کړي دي . هرانسان دژوندانه سبک له هغه  ټولنیز ، اقتصادي اوکلتوري چاپېریاله زده کوي چې دی وده پکې کوي ، که څه هم چې دی اتنیکي یا توکمیز اړیکي ورسره ونلري .
له بده مرغه ، اتنیکي ــ راسیستي احساسات لاتراوسه هم  یوشمېرکړیو ته ارزښت لري  اوهڅه کوي چې دځانګړیو سیاسي ګټو دساتنې لپاره  یوه ډله انسانان تر بلې  ټیټه وګڼي او تر منځ یې د اپارتاید کرښه وکاږي .

جګړه ییزې اړتیاوې :
دولتونه اوسیاستونه لویوبهرنیوستراتیژیکي موخو ته درسېدلو لپاره یاله نورو  هېوادونوسره پرجګړواخته کېږي اویا هم ددااز جګړو لپاره تل چمتووالی لري . په هره جګړه کې دلوژېستیکي ــ تخنیکي پیاوړتیا ترڅنګ بشري ځواک ته ځکه ډېره اړتیالیدل کېږي چې له هغه دجګړې ماشین جوړېږي اودجګړې په ډګر کې د وراوښتې مرګ ، ژوبلې له لامله ژرکمی په کې راتلای شي . سیاسي ستراتیژیستان تل  اړ وي چې دجګړو کرښو ته نوي جګړه مار واستوي اودغه کمی جبران کړي . ښکاره ده چې دوی دغه شمېر  هله بېرته پوره کولای شي چې په هېوادکې بشري زېږمه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
**یادونه:** دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ولري اوبشري زېرمه هله منځته راتلايشي چې زېړشمېر اوچت وي . په دې توګه ، پر جګړو بوخت يا جګړوته چمتو سياسي کړۍ له ټولو امکاناتوکاراخلي چې وګړزېړ. ډېرشي اودوی ته اړتيا وړ جګړه مار ځواک چمتوکړي . هسې خوشې نه وه چې د «ادولف هېټلر» فاشيستي کړۍ په ټولنه کې وګړزېړ ته زښته ډېرې پروپاګندې هڅونې کولې . دوی پټيلې وه چې لويه جګړه يې په مخ کې ده . دې لويې جګړې هره ورځ زرګونه سرتېري خوړل اوچې کورنيو ډېر کوشنې ورته نه زېږولای ،هغه به يې په چا پرمخ بېوله . پر هېټلر سربېره ، دلويوجګړه ييزو موخو ګردسره خاوندو واکمنو دغه ټکې ګټورګڼلی اوهرراز سايکالوژيکي هڅې يې کړي چې دخپلو هېوادنو وګړشمېر پورته يوسي اودجګړولپاره پياوړي لښکرونه ترې جوړکړي .

ګروهنيزې هڅونې :
له تاريخي ـ ټولنپوهنيز پلوه ، دنړۍ د ټولو ګروهو ترمنځ پرلپسې سيالي روانه ده . هر ګروهنيز بنسټ هڅه کوي چې دبل هغه پر وړاندې يې دخپل اغېز کړۍ پراخه يا لږترلږه ځواکمنه وي . د دغه اغېزو ځواک يو غوره فاکتور دپلويانو د شمېر ډېرښت دی .
کټنو څرګنده کړې چې ګروهمشران په خپلو پلوي کورنيو کې وګړزېړ ته ډېر لېوال دي او دکنټرول پروړاندې يې دربېږي . دوی تر ګردو نورو ټولنيزو کړيو ځکه په خپلو ستراتيژيو کې ډېر برياڼي دي چې دوګړزېړ ګروهنيزه ننګه کړای شي او ګروهمنو پرګنو ته يې د ګروهنيزو دندو په لړ کې سپارښتنه کوي . دوی ډېر ژر پلوي کورنۍ ډاډه کولای شي چې داوچت وګړزېړ له لامله داقتصادي سرچينو اوورځني لګښت تر منځ دبيلانس له ګډوډۍ ونه وېرېږي ، ځکه چې هرچاته دهغه دلګښت برخه په اسمان کې ټاکل کېږي .
همدا لامل دی چې په کلکو ګروهنيزو ټولنو کې د وګړزېړ کچه تر نورو هغو اوچته ده .
ګڼشمېر اقتصادپوهان اوټولنپوهان دوګړزېړ په اړه له پورتنيو بنسټونوسره همغږي نه دي . لومړۍ ډله اندېښنه څرګندوي چې دورځنيوسرچينو پروړاندې ډېرېدونکی لګښت يولوی نړيوال کړکېچ رامنځته کولای شي او بايد دمخنيوي لپاره يې ټولې هغه لارې چارې وکارول شي چې وګړزېړ کنټرول کړي . دوی لا ميندو ته دارښته هم غواړي چې که خوښه يې وي د ډاکټر په مرسته په خپله ګېډه کې څو اونيز کوشنی هم له منځه وړلای شي . روحاني بنسټونه داتيوري جدي نه ګڼي او چاته دنازېږېدلي کوشني د وژلو واک نه ورکوي . په دې برخه کې بايد وويل شي چې د ګردو روحاني بنسټونو په ګډون هربل انسانپلوه ( هيومانيست ) ځواک هم دنده لري چې دنازېږېدلي کوشنيوژنې له لارې دوګړزېړ دغه راز زړه ربړنده کنټرول جنايت وګڼي او پروړاندې يې کلک ودرېږي .

پايله :
همداسې چې موږ هريو په يوه ټاکلې ټولنه اوبيا ګردسره په ګډه نړۍ کې ژوند کوو، دادنده هم لروچې په هره برخه کې دبشري ژوندانه دځرنګوالي اوهغه ته د وړپېښو ستونځو په اړه فکر وکړو او له خپلو امکاناتو سره هغه لارې،چارې ولټوو چې دغه راز ستونځې په بنسټيز ډول هوارولای شي . اوس نوکه چېرې بېکچه وګړزېړ دننۍ نړۍ په لويو ستونځوکې راځي ، په کارده چې څرګند پوهنيز معيارونه ومنو او د دې ستونځې په هوارولو کې ديوه رېښتيني مدني انسان په مانا برخه واخلو .
همدا اوس چين ، هند ، پاکستان ، بنګلاديش اوداسې نورد بېکچه وګړشمېر له لاسه هم په خپله له ستر کړکېچ سره مخامخ دي اوهم يې نړۍ ته سترګواښ پېښ کړی دی . چين دغه ټکي ته په پاملرنه، داسې قانون پلی کړی چې څوک تردوو کوشنيو د ډېرو زېږولو ته نه پرېږدي . سره له دې چې ددغه هېواد دولت دنړيوالوسياليو له لامله لويديزو ځواکونوپه دې برخه کې دبشري ربنتو په ترپښولاندې کولو ګرم ګڼلی ، خو که چېرې چيني واکمنو دغه قانون راوېستلای نه وای ، نن به نه يوازې په چين کې دپښو ايښوولو ځای پاتې نه وو لا چې ګرده نړۍ به يې ډکه کړې وای . بيا به ټولو کوکې وهلې چې هله يوه لار ولټوئ چې« ژېړ خطر» لاندې کړو .
داسمه نه ده چې موږ دچين بېلګه ګردې دربېمې نړۍ ته وړاندې کړو. هلته ځانګړيو بېړنيو شرايطو همداسې غوښتنه کوله . نور وروسته پاتې هېوادونه چې دبېکچه وګړزېړ له ستونځې سره لاسوګرېوان دي ؛ کړای شي د اروپا بېلګه وکاروي ، دساري په توګه :

ـ په پرمختلليو اروپايي هېوادونوکې هرانسان د ټاکلي کار له لارې مالي سرچينه اوبيمه لري اودا وړتيا هېڅوک نه اړ کوي چې دمالي مرستې او ملاتړ موندلولپاره کوشنې وزېږوي .
ـ دولت په بشپړه توګه دوګړيوترمنځ قانوني بريدونه ساتي اوهېڅوک اړ نه دی چې له حقوقي ګواښونو دځانساتنې لپاره دکورنۍ دغړيو فېزيکي ملاتړ ولټوي .
ـ دلته په منځني ډول ورځوشپه پر درېيوبرخو وېشل شوې . اته ساعته کار، اته ساعته ژونداو اته ساعته خوب . په دغه مهالوېش کې که څوک ډېر کوشنې زېږوي ، ددمې اوخوب موده يې رالنډېږي اوچې دامودہ رالنډه شوه بيا څوک سم کار نشي کړای اوچې سم کارنشي کړای ، ژوند يې بې خونده کېږي .


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**يادونه**: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ـ پراروپايي نورمونو پرکوشني روزنه ډېرې پيسې لګېږي . سره له دې چې دولت هرې مورته دهغې دکوشنيو پر شمېر يوڅه پيسې ورکوي ، خو بيا هم ميندې اوپلرونه اړدي چې ډېر مالي فشار ته يې غاړه کېږدي .
ـ ستومانه کورنۍ په کالنيو رخصتيوکې لرې سيمو اوهېوادوته د دمې لپاره ځي . سترو کورنيو ته ډېره سختېږي چې له يوې ډلې کوشنيوسره چېرې ولاړې شي اوپوره دمه وکړای شي .
ـ مېرمنې خپلې ښکلا ته ډېره پاملرنه کوي . دوی پوهېږي چې هرځل کوشنی زېږونه يې ښکلا کموي اوهغه څه چې ددوی ښکلا کموي اوڅه ګټه نه ورته لري ، دوی هم زړه ورته نه ښه کوي .
ـ هېڅ مېره په زور خپله مېرمن کوشني زېږولوته نشي اړ وېستلای .
ـ هره ښځه دبلاربېدلو دمخنيوي ټولې لارې چارې پېژني او هره ګړۍ دغولارو، چاروته لاسرسی لري .
ـ دلته طلاق ترواده ډېر اسان دی . هراړخ ته چې محکمې تر طلاق وروسته دکوشني يا کوشنيو روزنه ورترغاړه کړه ، بل اړخ به دهرکوشني تر اتلس کلنۍ پورې تاکلي مياشتنۍ پيسې ( اليمېنټ )لنډوي . دغه درانه پيټي ته هرڅوک اوږه نه نيسي او کوشني نه ډېروي .
په پرتليز ډول ، که دنړۍ پرمختلليو مدني ټولنو چې دټولنيزو او روغتيايي اسانتياوو له مخې دمړينې شمېر ډېر ټکې ټيټ دی ؛ دوګړزېږ دبېلانس کلکه ساتنه کړې نه وای، اوسنی شمېر به تردې لا نورهم ډېر شوی وای .
تر دغه ځايه په بېلابېلو ټولنو اونړۍ کې دوګړزېږ لاملونو او اغېز ته ځير شو. اخوا ، پرموږ اړه لري چې له دې پېښې سره څنګه مخامخېږو او ددې ټولنيزې اونړيوالې ستونځې د مخنيوي پروړاندې خپله دنده څنګه پرځای کوو.
کېدای شي پر پورتنيو څرګندونو سرېبره به هم ځينوته دبېکچه وګړزېږ پوښتنه بې ځايه اوبې مانا ښکاري ، خو همدوی پوښتو، اوس چې دنړۍ پرمخ دانسانانو شمېر څه کم اوومېلياردو ته رسېدلي ، دې ته مو پام دی چې پېنځوس ياسل کاله وروسته به دغه شمېرڅوته ورسېږي اوبيا به هغه انسانان « ستاسې زامن ـ لونې ، لمسي ،کړوسي ...» تراوسنيو لا ډېر يوتربله خوړلوته سره اړنشي ؟ او که دا پوښتنه هم بې ځايه اوبې ماناګڼې ؟

پای



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ